## د لنډې کیسې او ژبې کرېکټر تر منځ تفاوت

موضوع : ادبیات    :PA

لیکوال: استاد نوراحمد قران مل

السلام علیکم ورحمت الله و برکاته!

د لنډي کیسې او ژبې کرېکټر تر منځ پر تفاوت باندي خبره ده.

دا که په عموم کي ورته متوجې سو، یو ډېره عمیقه موضوع ده. تقریباً څلور یا متفرق موضوعات پکښې را نغښتي دي. په یوه اړخ کي د لنډي کیسې لنډه پیژندنه، په بل اړخ کي د ژانر لنډه پیژندنه، په درېیم اړخ کي د کرېکټر پیژندنه، او په وروستي اړخ کي د تویپیر یا د جلا والي دی. چي هره موضوع یې ځان ته د پام وړ مسائل لري خو په خلصه توګه موږ تاسي دا موضوع داسي رانغاړو چي هر لنډه کیسه چي ده خپل ځان ته کرېکټر لري.

کرېکټر د هغو افعالو،حرکاتو او تیوریو مجموعه ده چي د یوې کیسې بشپړ والی موږ ته په ثبوت رسوي. پر همدې بنسټ باندي هر کرېکټر چي په لنډه کیسه کي سر ته رسیږي پر مخ باندي ځي دا ده دې لپاره دی چي د کیسې هغه مطلوب هدف چي پکښې مطرح سوی دی ،چي باید په لاس راوړل سي. که داسي وي چي کرېکټرونه د هدفونو څخه بیل وي، نو په هغه صورت کي بیا د کیسې رنګ پیکه راځي. یا په دې معنی چي تیت او پرک پراخه ساحه خو را ټوله ساحه په لاس کي نه راځي او یا په دې معنی چي هدف پر یوه لور ځي او کرېکټر پر بل لور ځي. خو که داسي وي چي یو څوک د لنډي کیسې په کرېکټرایزېشن کي د Target، Goal او یا Object یا زموږ ستاسي په عامه اصطلاح د هدف پر لور [illegible] هلته به یې یوه طرف کي د کرېکټر موجودیت یا د عملي طتبقاتو موجودیت او په بل اړخ کي د هدف سمارټ والی یا روڼ والی دا په خپله د کیسې جالب والی او روښان والی موږ ته په لاس راکوي.

د همدغه هدف د ترلاسه کولو لپاره چي کوم کرېکټر مطرح کیږي کرېکټر به حتمي پر دوو فزیکي مسائلو باندي ولاړ وي. یوه فزیکي د لوبغاړي یا هومر یا د اتل عمل دی چي دی کم عمل سر ته رسوي. چي دا په خپله دوې برخي دي. یو د کیسې اتل دی چي هغه خپل کرېکټر پر مخ باندي بیایي او د خپلي لنډي کیسې د عمل په نتیجه کي د یو عکس العمل سره مخامخ کیږي. بیا به هدف لاس ته راوړنه خوښي او خوشحالي پکښې کي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نغښــتي وي هوســايي بــه پکښــي کــي وي. يــا بــه نــا اميــدي پکښــي نغښــتې وي، لاس پر سر کيدل او د ټولني څخه لاس اخيستل وي پکښي.

دوهــم بيــا هغــه ناقــد يــا ليکــوال چــي هغــه د تنقيــد پــه ژبــه بانــدي يــو لنــډه کيســه ګــوري هغــه چــي يــې مطالعــه کــوي، نــو پــه خپلــه بــه حتمــي  لــه دوو عمــل ســره مخــامخ کيــږي او د هغــه پــه مقابــل کــي بــه عکــس العمــل وينــي. کــه پــه مسـلکي لحـاظ پـه منـي لحـاظ  لنډه کيسـه نقـد کړې وي نـو حتمـي بـه هغـه څـوک چـي هغـه يـا دده پـر نظـر ملاحظـه لـري  هغـه بـه يـې ور رد وي او يـا هغـه څـوک چـي هغـه د ده سـره تائيـد والـی راولـي. چـي دا  کريټيسـيزم يـا نقـد راشـي موضـوع ده. خـو کلـه چـي مـوږ تاسـي پـر دې موضـوع بانـدي بيرتـه لنـډي کيسـې تـه راګرځـو او په لنډه کيسه کي موږ د کريکټر موضوع تشريح کوو.

کريکټـر، عملـي تطبقـات، تيـوري، اتـل او ورسـره تـر څنـګ هـدف دا ټولـه چـي سـره نغښـتلي وي، منطقـي ربـط سـره ولـري پـه هغـه صـورت کـي د کيسـې روڼ والــی او شــفافيت مــوږ تــه پــه لــاس راکــوي. د دې څخــه بــا وجــود مــوږ تاســي پــه کيسـه کـي د يـو بلـي موضـوع سـره مخـامخ کيـږو چـي هغـه پـه نـاول يـا پـه داسـتان کــي کيــدای ســي. پــه نــاول يــا پــه داســتان کــي عمومًــا   Hero ، لوبغــاړی يــا اتــل د داسـتان يـا د نـاول يـو نفـر وي ټولـه موضـوع پـر هغـه محـور بانـدي راګرځـي د هـر پراګـراپ يـا هـري حسـې موضـوع چـي پـای تـه رسـيږي بيـا هـم بيرتـه مطـرح لوبغـاړی پکښـي وي. خـو پـه لنـډه کيسـه کـي څـو کريکټرونـه د څـو کسـانو راځـي سـره تـر دې چـي يـو لنـډه کيسـه بـه خپـل ځـان تـه يـو لويغـاړی لـري يـو اتـل بـه لـري خـو پـه هغـه کــي بــه ډيــر مســائل راغلــي وي چــي دی بــه د نــورو خلګــو د عکــس العملــو ســره شامل وي.

پـه يـوه طـرف کـي بـه ادم خـان د کيسـې لوبغـاړی وي پـه بـل طـرف کـي بـه درخـانی ورسـره ملګـرې وي، پـه بـل طـرف کـي بـه بيـا فـتح هـم ورسـره ملګـری وي او داغســي د «کرمــي »پــه کيســه کــي چــي مــوږ تاســي يــې ګــورو هلتــه بــه د کلابسـت پـه دروازه کـي چـي دوی وځـي رابعـه بـه وي پکښـي کـي د رابعـه تـر څنـګ بـه فـتح خـان بريځـی، کرمـی بـه يـی، هغـه د هندوسـتان ډاکـوان بـه يـی هـره مسـئله به وي.

د لنــډي کيســې لوبغــاړی بــه فــتح خــان پريځــی وي خــو غــم بــه ټــول عمــر د کرمـی د خـوا پـيښ وي. نـو پـه لنـډه کيسـه کـي څـو کسـان او څـو لوبغـاړي مطـرح کيــږي. پــر همــدې بنســټ بانــدي د لنــډي کيســې مرکزيــت چــي دی هغــه د اورده داسـتان يـا نـاول پـه پرتلـه بانـدي پاشـلی اوسـيږي متمرکـز نـه وي. دغـه تفـاوت راځـي پکښـی کـي ور څخـه بـاوجود پـه لنـډه کيسـه کـي پـه کريکټـري برخـه کـي چـي مـوږ او تاسـي يـې ګـورو ځينـي کسـان وي چـي هغـه متحريـک وي. د لوبغـاړي رول

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکښې اجرا کوي مخ په وړاندې ځي اجرأت کوي. خو ځیني نور کسان دي چي هغه په حاشیه کي په ځینو ځایونو کي یې نومان ور سره ذکر کیږي. په ځینو ځایونو کي یې نوم ذکر کیږي کریکټر یې نه واضح کیږي،

په ځینو ځایونو کي یې نوم ذکر کیږي عمل یې ذکر کیږ ي، لکن نتیجه یې نه معلومیږي پکښې. همدغه دوه مسائل دي چي دا په لنډه کیسه کي موږ تاسی ته هغه ابهامات په لاس را کوي. خو کله چي د دې ټولو څخه با وجود د لنډي کیسې په لیکنه کي د کریکټر په برخه کي د لیکوال هنریت ډیر مهم دی .

یو لیکوال کیدای سی چي په دوو هنرونو باندي یو د ادبیاتو په ژبه باندی داسي جادویي الفاظ و کاره وي چي هغه کلیشه یي الفاظ ونه اوسیږي. هر ګام ته تلوسه په لاس باندي ورکړي چي هغه باید دغه لنډه کیسه مطالعه کړي چي نور څه پیښیږي او هغه مطلوب ټکی په لاس باندي راوړي. خو ځیني لیکوالان په ساده او په سولیدلو الفاظو باندي خپله لیکنه داسی نویشته کوي چي خلګ و دې ته لیوالتیا نه ښیي چی دا کیسه تر پایه پوری ولولي.

لکه عادي توري چي سړی لولي. دغه هم د لیکوال هغه هنري کریکټر دی چي د کیسې د کریکټرایزیښن د اکمال لپاره، یا د بشپړ توب لپاره ډیر مهم بحث دی. دلته د هغه اساسي خبره چي بله چي راځي چي زموږ تاسی په پوښتنه کي مطرح سوې ده هغه داده چي د ژبو سره یا فرض مثال ژبه یې باید څنګه وکارول سي دا ډیره مهمه خبره ده.

لیکوال ته په کار ده چي وار د واره ډیالتیک ادبیات یا منطقوی ادبیات باید ده مطالعه کړی وي. په خوی، عاداتو، رسوماتو، وراشو په دې ټولو باید پوه و اوسیږي. د دې څخه با وجود د لیکوالی په پند باندي دی حاکم وي. د لنډي کیسې تیوریاني باید ده مطالعه کړي او په لنډه کیسه کي داسي نثر راوباسي چي بالا بود الفاظ، اضافه لیکنی، اضافه کلیمات داپه لیکنه کي نه ووسیږي .

لیکوال بل مسئولیت ددې لري چي د خپلي کیسې روان والی په ساده الفظو داسی نویشته کړي چي هغه د هر چا و مغز ته خطور وکړي او د هر چا مغز ته ورسیږي. یو څوک یې په دقیق ډول باندي مطالعه کړي. بل هنر یې دادي د لیکوال چي هغه لنډه کیسه په داسي جزابو الفاظو را شروع کړي چي خلګ تلوسه پیداکړي چی نور څه پیښیږي.

که داسي یې چي دی په سر کي مخکني، زاړه، کلیشي الفاظ وکاروي،« لکه څنګه چي تاسي ته وو یل سوه، لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې ما دا تصميم ونيوی، لکه څنګه چې لنډه کيسه داسې ده» دغه هغه اصطلاحات دي چې هغه ډير تکرار سوي دي. نو خلک و دې ته زړه نه ښه کوي .

دی بايد د لنډې کيسې پيلامه په داسې شکل باندي را شروع کړي په هغه خپله ډيالکټيک ژبه کي چې په هغه منطقه کي دغه لنډه کيسه دی نويشته کوي. چې هغه په يوه اړخ کي نوې او په بل اړخ کي د خلګو په ژبه باندي وي. فرض مثال يو ليکوال را ولاړيږي نويشته کوي چې «زه پوهيږم چې مرګ ډير دروند دی خو کله چې ما د احمد د ژوندانه راز وليدی ما خدای ته زارۍ وکړې چې خدايه ته پر احمد باندي ورحميږې. څونده ستونزي ا و مشکلات يې و ګالل. خو که ماته داسې مرګ راکوې خدايه ما وژغورې، زه د دغو تکالفو د دغو زحماتو توان نه لرم» په سر کي چې دغه الفاظ دا جملات تر خوله را ويستله هم يې عرف پکښې معلوم کړی، هم يې توان پکښې معلوم کړی او هم نور څه.

پر هم دې بنسټ باندی موږ تاسې چې کله لنډه کيسه نويشته کوو دغه مسؤليت لرو پکښې کي چې بايد د ژبې د هنر اندازي پکښې زده کړې وي. په درنښت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**